# په صرافۍ کې د بیعانې حکم

محمد سليم کريمزی


## لنډيز

په صرافۍ کې بیعانه د هغه پیسو ورکولو څخه عبارت ده چې پېرودونکی یې پلورونکي ته د عقد د توثیق لپاره ورکوي، که عقد يې تر سره کړو؛ نو ورکړې پیسې به د مبیعې د ثمن برخه ګڼل کېږي او که چېرته پېرودونکي له عقد څخه انصراف وکړو؛ نو ورکړې پیسې يې پلورونکي ته پاتې کېږي چې په اوسنیو بازارونو کې د صرافۍ او په ځانګړې ډول د سرو زرو او سپینو زرو د اخیستلو پر مهال دا کار صورت نیسي چې د دې مسئلې څېړنه او حکم يې روښانه کول یو له هغه موضوعاتو څخه دي چې په اوسنی وخت کې ورته سخته اړتیا لیدل کېږي؛ ځکه چې په اوسنیو بازارونو کې پرې تعامل کېږي چې په دې علمي مقاله کې مو د اسلامي شریعت د حنفي فقهې په رڼا کې د یوې توصیفي کتابتوني څېړنې پر مټ په صرافۍ کې د بیعانې حکم روښانه کړې دي او دې پایلې ته رسېدلي یو چې په صرافۍ کې بیعانه د ټولو فقهاوو په اتفاق سره جواز نه لري؛ ځکه چې په دې عقد کې د بدلینو قبض شرط دی او په بیعانې سره قبض صورت نه نیسي.


**کلیدي کلمات:** بیعانه، صرافي، ثمن او حکم.

## سريزه

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله محمد وعلى آله وأصحابه ومن دعا بدعوته واهتدى بهداه أما بعد : قال الله تعالى:( يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ)[1]

اسلامي شريعت چې د ژوند هر اړخيز نظام دی، د ژوند د هرې برخې لپاره يې ځانګړي احکام او يا عامه قواعد رالېږلي دي، چې د دغه قواعدو پر بنسټ د انساني ټولنې خپل منځي چارې په داسې توګه تنظيموي چې د هغوی مصلحتونه په پام کې نيسي او له هغوی څخه ضررونه دفع کوي.

له بله پلوه د انسان د هوسا اقتصادي ژوند د غوښتنو او متطلباتو څخه په اقتصادې معاملاتو کې چټکتيا، او د وجائبو او التزاماتو په برخه کې توثيق دوه هغه مهم ټکي دي چې په اقتصادي بازارونو کې پرې ټول کېدای شي؛ ځکه چې په دې دوه ټکو کې د يو شمېر خلکو غوښتنې او اړتياوو ته ځواب شته او همدا راز مصلحتونه او ښېګڼې يې په کې نغښتې دي؛ نو له دې امله په سوداګريزو بازارونو کې د خلکو تر منځ د راکړې ورکړې پر مهال د بيعانې خبره اوري راوري، دا پوښتنه راپورته کېږي چې آيا په صرافۍ کې د بيعاني ورکول جائز دي که نه؟، رېښتيا هم، دا يوه داسې ستونزه ده چې په کوم کتاب کې يې په لوستلو باندې د حکم د روښانتيا ستونزه نه حلېږي؛ نو له همدې امله مې د( په صرافۍ کې د بيعانې شرعي حکم) تر عنوان لاندې موضوع په دې علمي مقالې کې څېړلې ده او د دې مقالې په اوږدو کې مې پرې پوره تفصيلي بحث کړی دی.

---

۱- سورة مائدة، (۱) آيت

### ۱- موضوع پورې د اړوندو اصطلاحاتو پېژندنه

دا چې په صرافۍ کې د بیعانې پېژندنه په حقیقت کې د څو کلماتو څخه جوړه شوې جمله ده چې د ټولو کلماتو په شننې سره یې مفهوم ښه روښانه کېږي چې په لاندې بېلابېلو مطالبو کې به لومړی صرافي او بیا بیعانه وپېژندل شي.

### ۱ -۱- صرافي پېژندنه او حکم یې

د دې لپاره چې دا موضوع ښه روښانه شي؛ نو لومړی د صرافۍ لغوي پېژندنه، وروسته د صرافۍ اصطلاحي پېژندنه او همدا راز د دې تر څنگ به د صرافۍ حکم روښانه شي.

### ۱ـ۱ـ ۱ـ د صرافۍ لغوي پېژندنه

صرافي چې په عربي ژبه کې ورته بیع الصرف ویل کېږي چې لومړی یې د لغت له مخې پېژنو او بیا یې هغه اصطلاحي تعریفونه رانقلوو چې فقهاوو پرې دا عقد پېژندلی دی:

صرافي د لغت له مخې د عربي ژبې له (صرف) کلمې څخه اخیستل شوې ده چې په لغت کې اړولو راړولو[۱] اونقل کولو ته ویل کېږي؛ ځکه چې د دې عقد دواړه عوضونه یو بل ته نقل کېږي.[۲]

دا معنی یې امام کاساني رحمه الله په بدائع الصنائع کې هم د لغوي تحقیق پر مهال کړې ده [۳]

همدا رنگه به الجوهرة النیرة کې د صرافۍ د لغوي تحقیق پر مهال دا هم ذکر کړې ده چې صرف په لغت کې زیادت ته ویل کیږي چې له همدې امله نفلي عبادت ته هم صرف ویل شوی دی.[٤]

---

۱ـ الجوهری، اسمعیل بن حماد (۱٤۰۷هـ. ق) ،الصحاح تاج اللغة، ج۱، دار العلم للملایین، ص۳۸٦.

۲ ـ ابن منظور، محمد بن مکرم الافریقی، لسان العرب، ج۹، دار صادر، بیروت، (۱۴۱۴هـ. ق)، ص۱۸۹.

۳ - الکاسانی، علاء الدین، أبو بکر بن مسعود بن أحمد الکاسانی، ( ۱٤۰٦هـ. ق - ۱۹۸٦م)بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع ،ج ۵، بیروت: دار الکتب العلمیة، ص ۲۱۵.

٤ - الزبیدی، أبوبکر بن علی بن محمد الحدادی العبادی الیمنی الحنفی، (۱۳۲۲هـ.ش) الجوهرة النیرة، المطبعة الخیریة، الطبعة الأولی، ج،۱ ص ۲۲۱.

### ۱-۱-۲- د صرافی اصطلاحي پېژندنه

د حنفي فقهې ستر فقیه ابن عابدین رحمه الله صرافی د شریعت له مخې داسې تعریف کړې ده، (بیع الصرف : بیع الثمن بالثمن، ای ما خلق للثمنیة و منه المصوغ جنسا بجنس او بغیر جنس کالذهب بالفضة.[۱]

ژباړه: خرڅول د پیسو دي په پیسو سره، یعنې هر هغه شی چې د ثمنیت لپاره پیدا شوې وي او له بیع صرف څخه ده بیع د هغه شي چه جوړ شوې وي له سپینو زرو یا له سرو زرو څخه په هغه شي چه جوړ شوي وي له سپینو زرو یا سرو زروڅخه، لکه خرڅول (د ګاڼه په ګاڼه) برابره خبره ده چه جنس په جنس خرڅ شي او که بغیر له جنس څخه وي.

همدا راز معاصر فقیه دکتور وهبه الزحیلی په خپل مشهور کتاب الفقه الاسلامی وادلته کې داسې تعریف کړی دی: (هو بیع النقد بالنقد جنسا بجنس او بغیر جنس، أي بیع الذهب بالذهب و الفضة بالفضة و الذهب بالفضة مصوغا او نقدا).[۲]

ژباړه: بیع الصرف خرڅول د نقدو په نقدو، جنس په جنس سره او یا بغیر له جنس څخه، یعنې خرڅول د سروزرو په سرو زورو او دسپینو زرو په سپینو باندي او دسرو زرو په سپینو زرو: جوړ شوي زر وي (ګاڼه او لوښی چي له زرو جوړ وي) او که نقد وي.

پورته دواړه تعریفونه یو له بل سره یو ډول دي او دواړه په ګډه، د دې خبرې څرګندونه کوي چې ثمن په ثمن بدلولو ته صرافي ویل کېږي که هغه ثمن بانکنوټونه وي او که سره زر او سپین زر وي.

### ۱-۱ -۳- د صرافی حکم

د روپو اخیستل او خرڅول یا د اسعارو تبادله جائز ده؛ خو چې کله په کې د صحت شروط مکمل وي او دا د بیعو د انواعو څخه یوه نوعه ده او د دې د روا والي په اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا﴾.[۳]

ژباړه: الله تعالی بیع روا ګرځولې او سود یې حرام کړی دی.

همدا راز د نبي صلی الله علیه وسلم دغه حدیث هم د صرافۍ حکم روښانه کوي:

---

۱_ ابن عابدین، محمد امین علاء الدین الدمشقی الشامی( ب، ت) حاشیة رد المحتار علی الدر المختار لابن عابدین، ج۷، بیروت: دار الکتب العلمیة ص۵۲۰-۵۲۱

۲_ الفقه الاسلامی و ادلته، ج٤ ، ص ٤۰۳-٤۰٤ .

۳_ سورة البقرة آیت ۲۷۵.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلاً بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ).[1]

ژباړه: له عبادة بن الصامت -رضی الله عنه - څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: خرڅ کړئ سره زر په مقابل د سرو زرو کې او سپین زر په مقابل د سپینو زرو کې، غنم په مقابل دغنمو کې، وربشې په مقابل د وربشو، خورما په مقابل د خورما کې او مالګه په مقابل د مالګې کې، مثل په مثل سره او دواړه به سره برابر وي او لاس په لاس به وي، که چېرته دا ډولونه او انواع مختلف شوه یو له بل سره؛ نو بیا یې خرڅ کړئ، چې څنګه ستاسو خوښه وي؛ خو کله چې لاس په لاس وي.

په مماثلت سره مراد یو شان والی دی، په قدر او اندازې کې نه په شکل او صورت کې.

بل حدیث کې راغلي دي، نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (جیدها وردیئها سواء).[2]

ژباړه: کره او ردي یې یو شان دي.

له پورتني آیت او احادیثو څخه موږ ته د بیع الصرف جواز او مشروعیت راڅرګندېږي؛ خو دا جواز او مشروعیت هغه وخت حقیقت لري چې کله د بیع الصرف په عقد کې د صحت ټول شرائط موجود وي او مونږ وروباندې عمل کړی وي.چې په لاندې مطلب کې به د بیع الصرف شرطونه روښانه شي.

## ۱-۱-۴- د بیع الصرف شرطونه

کله چې د صرافۍ په عقد کې لاندې شرطونه نه وي پوره؛ نو صرافي جواز نه لري چې په لنډه توګه یې په لاندې کرښو کې ذکر کوو:

لومړی شرط: د عقد په مجلس کې د دواړو لوریو څخه د قبض تر سره کول.

په بدائع الصنائع کې امام کاساني رحمه الله ویلي دي: ( فلا بد لصحة الصرف أن یقع التقابض قبل الافتراق)[1]

---

۱_ مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشیری النیشابوری، ( ب، ت) صحیح مسلم، بیروت: دار احیاء التراث العربی، ج۳، ص، رقم ۱۵۸۷.

۲_ الزیلعی، جمال الدین، نصب الرایة فی تخریج أحادیث الهدایة، ج۷، دار الحدیث، قاهرة، ص ٦، او زیلعی ورته غریب ویلی دی.

د صرافۍ د صحت لپاره دا حتمي ده چې د بېلتون او افتراق څخه مخکې د بدلينو قبض صورت ونيسي.

دويم شرط: کله چې په صرافۍ کې د سودا دواړه اړخونه له يو جنس څخه وي؛ نو د وزن له مخې بايد يو ډول وي، که څه هم د کره والي او صنعت له مخې توپير ولري. چې په دې اړوند کاساني رحمه الله وايي: فلا يجوز التفاضل عند اتحاد الجنس[٢]

ژباړه: په صرافۍ کې د جنس د يووالي پر مهال تفاضل او زياتوالی جواز نه لري.

درېيم شرط : د خيار شرط څخه بېلوالی .

په صرافۍ کې شرط دی چې د دواړو لورو څخه به يې کوم يو بل لوري ته خيار شرط نه ورکوي او عقد به لازموي او نيمګړی به يې نه پرېږدي. [٣]

د صرافۍ لپاره دغه ځانګړي درې شرطونه د حنفي مذهب فقهاوو ذکر کړي دي چې ددې تر څنګ د عقد عمومي شرطونه، لکه: عقل، بلوغ، اختيار او دعقد لپاره بشپړ اهليت به په کې هم پوره وي چې دلته يې تفصيل ذکر کولو ته اړتيا شتون نه لري.

## ۱-۲ - د بيعانې پېژندنه

بيعانه د عربي ژبې کلمه ده، چې په پښتو ژبه کې ترې په بيانه، بېنه، تېی او داسې نورو اصطلاحاتو سره تعبير کېږي. په پښتنو ټولنو کې بيانه پر دوه ډېرو باندې تر سره کېږي، چې يوه بڼه يې په دې توګه تر سره کېږي چې د عقد د تر سره کولو څخه وروسته د عقد د توثيق او تأکيد لپاره مشتري بائع ته د مبيعې له ثمن څخه يوه اندازه پيسې ورکوي، که عقد يې نافذ کړو؛ نو ورکړې پيسې به د مبيعې د ثمن څخه ګڼل کېږي او که چېرته يې عقد نافذ نه کړو او مشتري مبيعه تر لاسه نه کړه؛ نو ورکړې پيسې به بائع ته پاتې کېږي چې دې بڼې ته عربون ويل کېږی او د حنفي مذهب فقهاوو دا بڼه عربون ګڼلې ده او په خپل پخواني تراث کې يې په همدې نوم د فاسدو بيوعو په ډله کې راوستلې ده.

---

١ - الكاسانى، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاسانى، ( ١٤٠٦هـ. ق - ١٩٨٦م)بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع ،ج۴. بيروت: دار الكتب العلمية، ص ۴۵۳.

٢ - الكاسانى، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاسانى، ( ١٤٠٦هـ. ق - ١٩٨٦م)بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع، ج۵. بيروت: دار الكتب العلمية، ص ٢١٦.

٣ - ابن عابدين، محمد امين علاء الدين الدمشقى الشامى ( ب، ت) حاشية رد المحتار على الدر المختار لابن عابدين، ج١۵، بيروت: دار الكتب العلمية، ص ٥٢٦

دویمه بڼه یې دا ده چې د عقد له انعقاد څخه مخکې د عقد یو لوری د وعد بالعقد په برخه کې یو څه اندازه پیسې د عقد  بل لوري ته د جدیت په توګه اویا د عقد د لیوالتیا لپاره ورکړي، او دغه بڼه یې معاصرو فقهاوو د (هامش الجدیة) په نوم نومولې ده

د هامش الجدیه په اړوند شیخ محمد تقي عثمانی حفظه الله په خپل کتاب فقه البیوع کې داسې څرګندونه کوي: ( هامش الجدية مبلغ يدفعه المشتري إلى البائع عند وعده بشراء شيئ قبل إنجاز البيع ليثبت به جديته فى ذلك الوعد وإن هذا المبلغ لا يأخذ حكم العربون، بل هو أمانة بيد البائع يجب عليه أن يرده إلى مالكه إن لم يتم البيع لسبب من الأسباب.) [۱]

ژباړه: هامش جدیه د هغه مبلغ پیسو څخه عبارت دی چې مشتري یې بائع ته د عقد ترسره کیدو نه مخکې دعقد په اړه د وعدی کولو په وخت کې دخپلې لیوالتیا یا جدیدیت لپاره ورکوي، دا مبلغ د عربون حکم نه لري؛ بلکې دا به له بائع سره د أمانت په توګه وي، پر هغه لازم ده چې که چېرته د کوم سبب له کبله بیع تر سره نه شوه نو یاد مبلغ به  خپل مالک ته بېرته واپس سپاري.

د یادونې وړ ده چې شیخ تقي عثماني حفظه الله د هامش الجدیة په اړوند دا څرګندونه هم کوي چې هامش الجدیة کې تصرف کول د ټولو فقهاوو په اتفاق باندې ناروا دی. او هیڅ جواز نه لري.

که د بیانی دوهمې بڼې (هامش الجدیة) ته  له فقهي نظره وګورو نو دټولو فقهاووکرامو په اتفاق سره امانت ده، کوم اختلاف په کې نه تر سترګو کیږي لهذا د هامش الجدیة په اړه دلته نور زیات تفصیل ته اړتیا نه لیدل کیږي. اما دبیعانې لومړۍ بڼې (عربون) په اړه د فقهاوو کرامو ترمنځ اختلاف وجود لري یو اندازه تفصیل ته اړتیا لیدل کیږي لهذا غواړم د الله جل جلاله په مرسته لومړی بیانه (عربون) د لغوی او اصطلاحي اړخه روښانه کړم او بیا یې داسلامي فقهي له نظره شرعي حکم وڅیړم. هیله ده چې په لوستلو یې را سره سترې نه شئ.

## ۱-۲- ۱- د بیعانې لغوي پېژندنه

بیعانه د لغت له مخې په پښتو ژبدود کې د بیانې، بېنې، تېږې او داسې نورو نومونو سره یادېږي چې په فقه کې ورته عربون او هامش الجدیه ویل کیږي، لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه چې د هامش الجدیه په اړه نور تفصیل ته اړتیا نه لیدل کیږي لهذا اوس غواړم راتلونکې بحث یواځې د عربون په لفظي او شرعي برخه وکړم. عربون ته په عربي کې عُربان او أربون هم ویل

۱_ فقه البیوع ، ج۲، ص۱۱۳۹.

کېږي، او عربون کلمه د أربون څخه اخیستل شوې ده، چې  أربون د یوناني ژبې کلمه ده او هغه ثمن ته ویل کېږي چې د بیع عقد پرې لازمي کېږي(١).

ځیني وایي: عربون له تعریب څخه اخیستل شوی لفظ دی، کوم چې د بیان په معنا باندې دی؛ځکه چې بیعانه د بیع لپاره بیان دی.(٢) له همدې امله په پښتنه ټولنه کې یو شمېر عام خلک بیعانې ته بیانه وایي؛ځکه چې د سودا د لزوم او عدم لزوم بڼه پرې بیان کېږي.

ابن منظور الأفریقي لیکلي دي: کله چې یو سړی بل ته ووایي:که دا سودا مې درڅخه وانه اخیسته نو زما د مال څخه ستا دومره دومره برخه شوه، بل ځای کې وایي: بیعانه دې ته وایي: کله چې کوم سړی له بل څخه سودا واخلی او خاوند ته یې یو څه پیسې ورکړي او ورته ووایي: که عقد مې ترسره کړو؛ نو درکړل شوې پیسې به د مبیعې د ثمن او قیمت څخه ګڼل کېږي او که بیع مې تر سره نه کړه؛ نو ورکړل شوې پیسې به د سودا خاوند (پلورونکي) ته پاتې کېږي او مشتري ته به بېرته نه ورکول کېږي(٣).

په مصباح المنیر کې یې لیکلی دی: عربون د (ع) او (ر) په زور سره دې ته ویل کېږي.چې څوک له چا څخه کوم شی په بیع واخلي او یا یې ترې په اجاره واخلي، او د مبیعې د قیمت څخه یوه اندازه پیسې پلورونکي ته ورکړي او یا داجارې  له اجورې څخه یوه اندازه پیسې اجاره ورکوونکي ته ورکړي او بیا ورته ووایي: که عقد پوره او بشپړ شو؛ نو درکړل شوې پیسې به حسابوو او که عقد پاتې شو؛ نو درکړل شوې پیسې ستا شوې او زه یې بېرته له تا څخه نه اخلم.(٤)

نو ویلای شو چې بیعانې کلمه د عربي ژبې د عربون او یوناني ژبې د أربون مرادف کلمه ده.

او د نومونې وجه یې داده چې دبیع د عقد لپاره په کې (اعراب) یعنې اصلاح او د فساد له منځه تلل رامنځته کېږي؛ ددې لپاره چې بل څوک یې پر سودا سودا ونه کړي.

---

١ـ قلعجی، محمد رواس او حامد صادق قنیبی، معجم لغةالفقهاء، ج ١، دار النفائس للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت. (١٤٠٨ هـ. ق ) ص١٩، لسان العرب، ج٢، ص ٨٢.

٢ـ الزَّبیدی، محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسینی، تاج العروس من جواهر القاموس، ج٣، دار الهدایة، ص٣٥١.

٣ـ لسان العرب ، ج٢، ص ٨٢.

٤ـ الفیومی، احمد بن محمد بن علی ابو العباس. المصباح المنیر فی غریب الشرح الکبیر، ج٢، المکتبة العلمیة، بیروت، ص ٤٠٠.

## ۱-۲-۲- د بیعانې اصطلاحي پېژندنه

دلغت له مخې چې مونږ د بیعانې یا دعربون تعریف ولوستو د اصطلاحي تعریف سره یې کوم لوی توپیر نه تر سترگو کېږي؛ ځکه چې عرف د شریعت سره تړاو لري او د لغت علماوو او فقهاوو دواړو د عربون تعریف د ټولنې عرف ته په کتنې بیان کړی دی. په دې برخه کې یو شمېر هغه تعریفونه رانقلوو چې فقهاوو د بیعانې لپاره کړي دي

د حنفي مذهب ستر فقیه ابو الحسن السغدي(۱ )رحمه الله په خپل کتاب النتف فی الفتاوی کې د فاسدو بیعو په لړ لیک کې د بیعانې تعریف راوړی دی، لیکلي یې دي:( بیع العربان وَیُقَال الاربان وَهُوَ ان یَشْتَرِي الرجل السّلْعَة فَیدْفَع الی البَائِع دَرَاهِم علی انه ان اخذ السّلْعَة کَانَت تِلْكَ الدَّرَاهِم من الثّمن وان لم یَأْخُذ فیسترد الدَّرَاهِم) (۲)

ژباړه: عربان چې أربان هم ورته ویل کېږي، دې ته وایي چې یو سړی یو څه سودا وپېري او پلورونکي ته په دې توگه یو څه پیسې ورکړي که سودا یې واخیسته؛ نو ورکړي دراهم به د مبیعې د ثمن جزء وي او که سودا یې وانه اخیستله؛ نو ورکړي دراهم به گرځوي.

ابن قدامة رحمه الله وایي:( والعربون في البیع هو أن یشتري السلعة فیدفع إلی البائع درهما أو غیره علی أنه إن أخذ السلعة احتسب به من الثمن، وإن لم یأخذها فذلك للبائع)(۳).

ژباړه: په بیع کې عربون یا بیعانه داسې ده چې کله مشتري سامان واخلي نو پلورونکي ته یو درهم یا کوم بل شی ورکړي؛ ددې لپاره که چېرته سودا واخلي، نو دا ورکړل شوې پیسې به د مبیعې له قیمت څخه گڼل کېږي او که چېرته یې وانه اخیستې؛ نو بیا به د بائع وي.

عقد سرته ونه رسېده؛ نو ورکړې پیسې به پلورونکي ته پاتې کېږی او مشتري به یې بېرته نه غواړي.

۱ - پوره نوم یی ابو الحسن علی بن الحسین بن محمد السغدی دی، په حنفی مذهب کې فقیه دی، ستېه یې د سمرقند د سغد سیمې څخه ده، په بخاری کې هم اوسېدلی دی او هم یې هلته د قضاء دنده تر سره کړې ده، په خپل وخت کې د حنفی مذهب مشري ورپه غاړه وه، ډېر کتابونه یې لیکلي دي چې له هغې له ډلې څخه یې النتف فی الفتاوی او شرح الجامع الکبیر د یادونې وړ دي ، په ۴۶۱هـ.ق کال کې وفات شوی دی رحمه الله رحمة واسعة .الجواهر المضیة، ج۱، ص ۳۶۱ او الأعلام للزرکلی، ج۱، ص ۴۷۲.

۲- النتف فی الفتاوی، ج۱، ص ۴۷۲.

۳ _ المغنی لابن قدامة، ج۴، ص ۱۷۵.

شیخ محمد تقي عثماني حفظه الله هم په خپل کتاب فقه البیوع کې د عربون یا بیعانې د تعریف پر مهال د پورته تعریفونو تر څنګ یو شمېر نور تعریفونه رانغښتي دي او بیا یې دا خبره کړې ده:

(ویتبین من تعریف بیع العربون أنه بیع یثبت فیه الخیار للمشتری فإذا أمضی البیع اعتبر مبلغ العربون جزءا من الثمن وإن رد البیع کان مبلغ العربون للمالك فهو نوع من خیار الشرط للمشتري یقابله شیئ من المال في حالة رد البیع فقط أما البائع فلا خیار له).(١)

ژباړه: د بیعانې له تعریف څخه داسې څرګندېږي چې دا بیع ده او مشتري ته په کې داسې خیار ثابتېږي چې که بیع پرېږدي او که تر سره کوي یې ، که بیع یې تر سره کړه؛ نو ورکړې پیسې به د مبیعې د ثمن جزء وي او که چېرته یې بیع رد کړه؛ نو ورکړې مبلغ به د مبیعې مالک ته پاتې کېږي، دا په حقیقت د خیار شرط یو ډول دی چې مشتري له پلورونکي څخه د یو څه مالی عوض په مقابل کې اخیستی دی هغه مهال چې سودا رد کړي،  البته د بائع لپاره خیار نشته دی.

او یو شمېر نورو فقهاوو هم د بیعانې لپاره په لفظي تغیېر او بدلون سره یو بل ته ورته تعریفونه کړي دي چې مونږ ترې د موضوع د ښه روښانتیا په موخه د نمونې په ډول پورته یوڅه راواخیستل.

نو که چېرته د بیعانې په برخه کې مونږ د اهل لغت تعریفونه د فقهاوو د تعریفونو سره پرتله او مقارنه کړو؛ نو دې نتیجې ته رسېږو چې د لغویینو تعریف ډېر عام دی؛ ځکه فقهاوو د څرګندونو څخه په ډاګه داسې ښکاري چې په مشتري لازم ده چې بیعانه به یې پلورونکی ته مخکې له مخکې څخه ورکړې وي او د ابن منظور الأفریقي(٢)  له تعریف څخه داسې معلومېږي چې ضرور نه ده چې بیعانه به پلورونکي ته مخکې له مخکې څخه ورکوي؛ بلکې که معلومه یې ورته کړې؛ نو بسنه کوي؛ ځکه هغه وایي: ستا لپاره زما په مال کې دومره دومره برخه شوه؛ نو په دې کې ورکول لازم نه شو؛ بلکې د عقد پر مهال دغه شرط ته مشتري ځان ملتزم کړو که عقد یې تر سره نه کړو؛ نو د جزاء په توګه به دغه مشروط شوې پیسې یا مال به بائع ته ورکوي.

که چېرته د فقهاوو په پورتنیو تعریفونو او څرګندونو باندې ژور نظر واچوو؛ نو دې پایلې ته به ورسېږو چې د بیعانې لپاره د حنفي مذهب  معاصر فقیه د شیخ محمد تقی عثماني تعریف او څرګندونې د ډاډ وړ دي؛ ځکه چې نوموړي تعریف د معاصرې

---

١- فقه البیوع لتقی عثمانی، ج١، ص ١١٣.

٢ـ پوره نوم یې: محمد بن علی أبو الفضل جمال الدین ابن منظور الأنصاری الرویفعی الإفریقی دی، په (٦٣٠هـ.ق) کې په مصر کې پیداشوی، د القاهرة په دیوان الانشاء کې خادم وو او بیا یې په طرابلس کې قضاء هم وکړه، بېرته مصر ته راستون او په (٧١١هـ.ق) کې وفات شو، تر ځان وروسته یې تر پنځه سوه ټوکو کتابونه پرېښودل، د عمر په وروستیو کې ړوند هم شو، تر ټولو مشهور کتاب یې لسان العرب دی، بل کتاب یې مختار الاغانی، مختصر مفردات ابن البیطار او داسې نور دي.  الاعلام، ج٧، ص ١٠٨.

دودیزې بیعانې سره موافق دی، د نورو په نسبت لنډ او همدارنګه شامل دی؛ له بله پلوه د شیخ سغدي تعریف هم یو غوره تعریف دی، ځکه چې دودیزه بیعانه له بیعې پرته نورو معاوضوي عقودو ته شامله ده؛ همدا راز له بیعې پرته د نوور معاوضوي عقودو په ترسراوي کې کله ملکیت پلورل کېږي او کله منفعت؛ نو پر همدې بنسټ بیعانه نورو عقودو کې هم تطبیقېدای شي.

همدا راز له پورته څرګندونو څخه دا هم په ډاګه کېږي چې بیعانه د عقودو په بېلابېلو ډولونو کې تطبیق کېدای شي، که څه هم یو شمېر خلک داسې فکر کوي چې بیعانه یواځې د بیع په عقد کې تر سره کېږي؛ خو حقیقت داسې نه دی؛ بلکې حقیقت دادی چې بیعانه په بېلابېلو عقودو کې ترسره کېدای شي لکه: بیع، اجاره، صرافي، استصناع او داسې نور...

## ۲ـ په بیع الصرف کې د بیعانې حکم او تطبیقي مثالونه

دموضوع د ښه روښانتیا لپاره لومړی په صرافۍ کې د بیعانې حکم روښانه کوو او وروسې په صرافۍ کې د بیعانې تطبیقي مثالونه روښانه کوو؛ تر څو دا په ډاګه شي، آیا په صرافۍ کې بیعانه شونې ده که نه؟ او آیا جواز لري که نه ؟

## ۲ـ ۱ـ په بیع الصرف کې د بیعانې حکم

دا چې زمونږ د مقالې د عنوان او اهدافو له مخې مو د څېړنې چورلیز یوازې په صرافۍ کې د بیعانې شرعي حکم روښانه کول دي، نو زه په نورو عقودو کې د بیعانې په حکم باندې د موضوع د اوږد والي له کبله بحث نه کوم. البته په لنډ ډول یادونه کوم چې بیعانه د حنفي مذهب فقهاء د فاسدو عقودو په لړلیک کې راوړي، او دا عقد جائز نه بولي خو معاصر فقیه شیخ محمد تقی عثماني حفظه الله بیا وایي: بیعانه د حنبلي مذهب پرته د څلورو مذاهبو په اند جواز نه لري، البته که حاکم بل ډول حکم وکړي؛ نو بیا یوه اجتهادي مسئله ده چې زه یې قول کټ مټ په لاندې توګه رانقلوم:

(والبیع بهذا الشرط غیر جائز عند جمهور الفقهاء فلا یجوز للبائع عند فسخ العقد أن یمسك بالعربون، بل یجب علیه أن یرده إلی المشتري. إلا إذا حکم به حاکم لأن المسئلة مجتهد فیها).(۱)

د بیعانې په شرط باندې سودا کول د جمهورو فقهاوو په آند جواز نه لري؛ نود پلورونکي لپاره جائز نه دي چې کله عقد فسخ شي او بیعانه د ځان سره ونیسي؛ بلکې په هغه واجب دي چې که بیع فسخ شوه؛ نو بېرته به یې مشتري ته ورکوي؛ خو که چېرته حاکم بل ډول حکم وکړو؛ نو کېدای شي ؛ځکه مسأله اجتهادي ده.

---

۱- محمد تقی عثمانی، ( ۱۴۳۶هـ. ق) فقه البیوع ج۲، مکتبة معارف القرآن – کراتشی، ص ۱۱۳۹.

د همدې قول پر بنسټ ځینې خلک دې اجتهادي امر ته په کتنه تساهل کوي او په دین کې هر مذهب کې چې آسانې وي او یا یې په کې ګټه وي هغې پسې ځي او تلفیقي چلند کوي؛ نو دا خبره باید په ډاګه واوري چې د صرافۍ په عقد کې د ټولو فقهاوو په آند بیعانه جواز نه لري، او دا راجحه خبره هم ده چې په دې اړوند شیح محمد تقي عثماني حفظه الله د مجمع الفقه الاسلامی قرار چې په بروناې دار السلام کې یې صادر کړی دی، رانقل کړي دی او ویلي یې دي: ( وقد أخذ مجمع الفقه الاسلامی برأى الامام أحمد رحمه الله فى قراره رقم: ٧٦/ ٨ /٣ / د ٨ في دورة مؤتمره الثامن ببندر سيري باجوان بروناي دار السلام ونصه ما يلي:

المراد ببيع العربون بيع السلعة مع دفع المشتري مبلغا من المال إلى البائع، على أنه إن أخذ السلعة احتسب المبلغ من الثمن وإن تركها فالمبلغ للبائع

ويجري مجري البيع الإجارة، لأنها بيع المنافع. ويستثنى من البيوع كل ما يشترط لصحته قبض أحد البدلين فى مجلس العقد (السلم) او قبض البدلين (مبادلة الأموال الربوية والصرف).(١)

ژباړه: مجمع الفقه الإسلامي په خپل ٧٦ـ ٣- ٨ ګڼه قرارکې چې په بروناې دار السلام بندر سېرى، باجوان کې کنفراس دایر شوی وو، د امام احمد رحمه الله د قول سره سم خپل نظر څرګند کړ چې متن یې په لاندې توګه دی:

١- له عربون څخه مراد د سودا په داسې توګه خرڅول دي چې مشتری د پیسو یو اندازه مبلغ بائع ته ددې لپاره ورکړی چې که چېرته سودا یې واخیسته؛ نو د مبیعې له ثمن څخه به ګڼل کېږي او که چېرته یې پرېښوده؛ نو ورکړی مبلغ به بائع ته پاتې کېږي.

٢- د بیع په څېر به په اجاره کې هم چلند کېږي؛ ځکه په اجاره کې د منافعو پلور دی، خو له نورو بیوعو څخه ټول هغه عقود مستثنی او ځانګړي دي چې د صحت لپاره یې د عقد په مجلس کې د بدلینو څخه د یو بدل قبض کول شرط وي، لکه سلم او یا د دواړه بدلینو قبض کول شرط وي، لکه د ربوي مالونو مبادله او صرافی)

له پورته عبارت څخه په ډاګه معلومېږي چې کله په صرافۍ کې د بدلینو قبض کول شرط شو؛ نو بیعانه په کې ناروا شوه؛ ځکه د بیعانې په ورکولو سره قبض صورت نه نیسي.

او د دې خبرې لپاره له لاندې دلائلو څخه استدلال کېږي:

١- محمد تقى عثمانى، ( ١٤٣٦هـ) فقه البيوع ، ج١، مكتبة معارف القرآن – كراتشى، ص ١١٨.

عن عبادة بن الصامت قال: قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ( الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبر بالبر والشعير بالشعير والتمر بالتمر والملح بالملح مثلا بمثل سواء بسواء يدا بيد فإذا اختلفت هذه الأصناف فبيعوا كيف شئتم إذا كان يدا بيد).(۱)

ژباړه: له عباده بن رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: سره زر په سرو زرو، سپین زر په سپینو زرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، خورما په خورما، مالگه په مالگه باندې مثل په مثل، دواړه به سره برابر وي، لاس په لاس بدلول کېدای شي؛ خو که چېرته يې ډولونه بېل شو؛ نو چې څه ډول مو خوښه وي هماغه ډول يې وپلورئ، په دې شرط چې لاس په لاس وي او کله چې دا ډولونه سره بېل شول؛ نو چې څه ډول مو خوښه وي ويې پلورئ کله چې لاس په لاس وي.

که څه هم يو شمير فقهاء په ټولو ربوي شيانو کې تقابض او لاس په لاس بدلول لازموي؛ د دي لپاره چې مبيعه او ثمن تعين شي، خو د حنفي مذهب فقهاء بيا له نقودو پرته په نورو ربوي شيانو کې لاس په لاس قبض کول د تعين لپاره شرط نه بولي، ځکه چې د دي شيانو تعين له قبض پرته په نورو طريقو سره هم راتلې شي، لکه اشاره، د اوصافو په بيان، قبض او داسي نور هم اما؛ يواځې په نقودو او صرافۍ کې لاس په لاس قبض کول شرط بولي ځکه چې د نقودو تعين له قبض پرته په بل څه نه شي راتلي، لکه څرنگه چې علامه ابن عابدين شامی رحمه الله تعالى په ردالمحتار کې فرمايي: ثُمَّ اعْلَمْ أَنَّ ذِكْرَ النَّسَاءِ لِلِاحْتِرَازِ عَنْ التَّأْجِيلِ، لِأَنَّ الْقَبْضَ فِي الْمَجْلِسِ لَا يُشْتَرَطُ إلَّا فِي الصَّرْفِ وَهُوَ بَيْعُ الْأَثْمَانِ بَعْضِهَا بِبَعْضٍ أَمَّا مَا عَدَاهُ فَإِنَّمَا يُشْتَرَطُ فِيهِ التَّعْيِينُ دُونَ التَّقَابُضِ.(۲)

ژباړه: دنسيه ذکر يې ددې لپاره وکړ چې له تأجيل څخه احتراز راشي(نه له قبض څخه) ،ځکه په مجلس کي د بدلينو قبض کول يواځي په بيع الصرف (خرڅول دثمنوپه ثمنو) کې شرط دی، اما پرته له صرفه په نورو بيعوکې قبض شرط نه دی يواځې تعين شرط دی.

او همداراز شيخ محمد تقي عثمانی حفظه الله هم فرمايي: ( ثم إن الحنفية فرقوا بين النقود وبين المكيلات والموزونات الأخرى بأن الممنوع في المكيلات والموزونات الأخرى إذا بيع بعضها ببعض ،هو تأجيل أحد البدلين. فأما إذا كان البيع حالا، وتعين البدلان فلا يجب التقابض في المجلس. فإن تبايع رجلان الحنطة بالحنطة ، وعين كل أحد ما وقع عليه العقد بالإشارة مثلا، ثم افترقا قبل التقابض صح العقد بشرط أن لا يكون هناك تأجيل مشروط فيه وكذلك يجوز فيها بيع الغائب بالناجز: مثل أن تباع

---

۱_ صحيح مسلم، ج۳، ص۱۲۱۰، رقم ۱۵۸۴)

۲_ رد المحتار ،علامه ابن عابدين شامی رحمه الله تعالى جلد ۵، ص۱۷۲، باب الربا مکتبه شامله )

حنطة حاضرة بشعير معين غير موجود فی المجلس فيجوز البيع بشرط أن لا يكون فيه تأجيل. اما فی النقود, فلا يجوز ذلك وإنما يجب التقابض في المجلس.

والفرق أن المقصود من عدم جواز النسيئة فی الأموال الربوية أن يتعين البدلان فی المجلس، ولا يبقى أحدهما دينا , وبما أن هذا التعيين ممكن فی غير النقود جاز البيع بعد التعيين , وإن تأخر القبض بدون شرط, أما النقود فإنها لا تتعين بالتعيين عند الحنفية وإنما تتعين بالقبض فوجب التقابض فی المجلس لئلا يبقى أحد البدلين دينا).(١)

ژباړه: د حنفي مذهب فقهاوو د نقودو او د نورو ربوي شيانو( مكيلاتو او موزوناتو) تر منځ توپير کړي دی، او هغه دا چې له نقودو پرته نورو مكيلات او موزونات چې ځينې په ځينو وپلورل شي، نو په دې کې د بدلينو تاجيل او وروسته کول ممنوع دي، اما كه چېرته بيع حالاً وه (مؤجله نه وه) او دواړه بدلين معين شول، بيا په هماغه مجلس کې د دواړو بدلينو(توکيو) قبض كول شرط نه دي، د بېلگې په توگه: كه چېرته دوه سړيو يو پر بل غنم پر غنمو و پلورل، او هر يو يې هغه څه پر اشاره تعيين کړل چې عقد پرې واقع شوی دی، او بيا له قبض کولو تر مخه يو له بل څخه بېل شوه، عقد صحيح دی په دې شرط چې تأجيل په کې نه وي،او همدا رنگه له نقودو پرته په نورو مكيلاتو او موزوناتو کې بيعه د غائب په ناجز باندې صحيح ده، د بېلگې په توگه چې په مجلس کې موجود غنم په داسې معينو وربشو وپلوري چې په مجلس کې موجودی نه وي نو دا بيعه صحيح کيږي خو په دې شرط چې تأجيل په کې نه وي، أما په نقودو کې بيا دا ډول جائز نه ده، بلکې په يو مجلس کې د دواړو قبض کول لازم دي.

توپير يي دا دی چې په ربوي مالونو کې د نسيه د عدم جواز څخه موخه داده چې دواړه بدله بايد د عقد په مجلس کې تعيين شي او د بدلينو څخه بايد دين پاتې نه شي، خو دا چې له نقودو پرته د نورو شيانو له قبض پرته تعيين ممكن دی، له تعيين وروسته يې پلورنه هم روا کېږي، كه څه هم قبض مؤخر شي له شرط پرته، اما نقود د حنفي مذهب په آند له قبض پرته په تعيين سره نه تعينېږي بناً په هماغه مجلس کې د دواړو بدلينو قبض كول لازم دی؛ تر څو يو بدل د بل په وړاندې د دين په توگه پاتې نه شي. نو پر همدې بنسټ په صرافۍ کې بيعانه جواز نه لري.

او همدا راز ابن عمر رضی الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وفرمايل: ربنتيا لړ غوندې پوښتنه درڅخه كوم، ويې ويل: زه په بقيع سيمه کې اوښان خرڅوم، په ديناررونو( سرو زرو) يې خرڅوم او درهمونه( سپين زر) ترې بيا اخلم، يا دا چې په

---

١ فقه البيوع لمحمد تقی، ج٢، ص ٦٨٢.

درهمونو یې خرڅوم او بیا ترې دینارونه اخلم، دا د هغې او هغه د دې پر ځای اخلم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: پروا نه لري چې د هماغې ورځې په قیمت یې واخلې؛ تر څو چې بېل شوي نه یاستئ او ستاسې تر منځ کوم شي وي.(۱).

نو کله چې دواړه متعاقدین سره بېل شي او یو یې خیار ولري؛ نو دا داواړه په داسې حالت کې بېل شول چې د دواړو تر منځ یو څه پاتې دي چې دا د لاس په لاس والی او عقد د سمدستي والي سره مخالف دی.

نو کله چې په صرافۍ کې خیار شرط نه شي رامنځ ته کېدای چې هغه بې له عوض څخه انتظار کول دي؛ نو بیعانه هم په صرافۍ کې نه صحیح کېږي، ځکه چې دلته خو قبض په سمدستي توګه صورت نه نیسي بلکې دلته خو د پیسو په مقابل کې انتظار کول دي او دا جواز نه لري.

په لنډه توګه ویلای شو چې په صرافۍ کې د بیعانې د ناروا والي دلیلونه، هغه نصوص چې په عامه توګه یې بیعانه ناروا ګرځولې ده او بل دا چې په حنفي فقه او ټوله کې څلورګوني مذاهب په صرافۍ کې د بدلینو قبض کول شرط بولي او کله چې بیعانه په عقد کې شرط شي؛ نو تقابض صورت نه نیسي او عقد نه صحیح کېږي؛ نو دا لازمه شوه چې په صرافۍ کې بیعانه جواز نه لري.

## ۲-۲- په صرافۍ کې د بیعانې تطبیقي مثالونه

په صرافۍ کې د بیعانې د تطبیقي مثالونو لپاره د کونړ په بازارونو کې وګرځېدم تر څود صرافۍ په معاملاتو کې له صرافانو څخه د بیعانې صورتونه واورم؛ خو ټولو یې ماته دا خبره کوله چې مونږ په صرافۍ کې د بیعانې تعامل نه لرو او ددې یادونه یې هم کوله چې په صرافۍ کې بیعانه روا نه ده. خو یو تن صراف مولوي حضرت یوسف راته وویل چې یو شمېر صرافان او زر پلورونکي په خپلو دوکانونو کې په بیعانه تعامل کوي چې په لاندې بېلګو کې به روښانه شي:

یو څوک صراف ته ورځي او ورته وایي چې ماته دوه ساعته وروسته(۵۰۰۰) ډالرجمع کړه چې هماغه وخت به درته افغانۍ راوړم، صراف ورسره په همدې ساعت نرخ هم وکړي ،خو ورته وواېي ، که چېرته ډالر غواړې نو یو څه اندازه افغانۍ ماته د بیعانې په توګه راکړه چې زه باوري شم، ځکه زه چې دومره ډېر ډالر ستا په خاطر اخلم کېدای شي تاوان وکړم او بیا به ته نه راځې، کېدای شي ډالر ارزانه شي همدا رنګه د سرو زرو او سپینو زرو په پلورنځیو کې خلک جوړ شوي شیان؛ لکه: والۍ،

۱ _ السِّجِسْتانی، سلیمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشیر بن شداد بن عمرو أبو داود الأزدی، سنن أبی داود، ج۵، دار الرسالة العالمیة، ( ۱۴۳ هـ. ق)، ص۲۴۲.

ګوتمې او نور ګاڼه ییز توکي اخلي چې کله نا کله دې ته اړتیا پیدا کېږي چې بیعانه په کې ورکړي او مبیعه وروسته قبض کړي، نو په دې توګه هم په صرافۍ کې بیعانه صورت نیسي. (۱).

په دې برخه کې د اسلامي شریعت له نظره له څو اړخه ستونزې شته:

لومړی: په اسلامی شریعت کې په نقودو کې شرط ده چې لاس په لاس به یې بدلوي، او په دې ډول عقودو کې لاس په لاس بدلول صورت نه نیسي.

دویم: همدا رنګه امکان لري چې صراف په لاس کې ډالر ونه لري او تر ټاکلي وخت پورې یې د مشتري لپاره اخلي او جمع کوي، او په عقودو کې شرط دی چې کوم شی چې په لاس کې ونه لري خرڅول یې جائز نه دي او په دې باندې صریح نصوص دلالت کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه حدیث کې یې د نمونې په توګه ذکر کوو:

عن حكيم بن حزام، قال: قلت: يا رسول الله، يأتيني الرجل يسألني البيع، ليس عندي ما أبيعه، ثم أبيعه من السوق فقال: لا تبع ما ليس عندك(۲).

ژباړه: له حکیم بن حزام رضي الله عنه څخه روایت، هغه وایي: ما وویل: ای د الله رسوله !یو سړی ماته راځي او ما څخه د یو شي د بیع په اړوند غوښتنه کوي چې هغه ماسره نه وي، بیایې وروسته ورته زه له بازار څخه اخلم، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: هغه شی چې تاسره نشته هغه مه پلوره.

---

۱_ محمد یو سف صراف، (۱۳۹۷جدي ۵ نیټه) مصاحبه د اثر د لیکوال په واسطه، اسعدا باد ښار.

۲_ ابن حنبل، أحمد بن محمد بن حنبل الشيباني أبو عبد الله، مسند احمد، ج۲۴، بیروت، مؤسسة الرسالة، (۱۴۲۱هـ.ق). ص۲٦، رقم ۱۵۳۱۱، البانی رحمه الله صحیح ګڼلی دی، ارواء الغلیل، ج۵ ، ص ۱۳۲، رقم ۱۲۹۲.

دريم: دا چې مونږ په صرافۍ او دثمن په ثمن بدلولو کې د پورته ګڼو دلائلو پر بنسټ دې نتیجې ته ورسېدو چې په صرافۍ کې بیعانه جائز نه ده؛ ځکه په صرافۍ کې نرخونه لحظه په لحظه د تغیر وړ دي، او په قبض کې ځنډ کول مفاسدو ته لاره پیدا کوي.

## پایله

د دې څېړنیزې مقالې په اوږدو کې لاندې پایلو ته رسېدلی یم

بیعانه د عربي ژبې کلمه ده، چې د بیع څخه اخیستل شوې ده، خو د عربي پر ځای په پښتو ژبدود کې د عربي ژبې د عربون د معنا په توګه کارول کېږي.

بیعانه په شرعي اصطلاح کې دې ته ویل کېږي چې مشتري کوم شی واخلي او پلورونکي ته د مبیعې له قیمت څخه یو څه اندازه پیسې ورکړي او ورته ووایي که زمونږ تر منځ بیعه تمامه شوه او نافذه شوه، نو دا درکړل شوې پیسې به د مبیعې د قیمت څخه ګڼل کیږي او که بیع نافذه نه شوه، نو درکړل شوې پیسې ستا شوې.

بیعانه په بېلا بېلو عقودو لکه: بیع، اجاره، صرف، استصناع کې د تطبیق وړ ده، چې په ډېرو معاصرو عقودو کې هم د کارولو وړ ده او په بازارونو کې پرې تعامل کېږي.

په صرافۍ او د ثمنیاتو په پېر او پلور کې بیعانه ممکن ده؛ خو جواز نه لري؛ ځکه چې په صرافۍ کې د بدلینو قبض لاس په لاس شرط دی او بیعانه د عقد او ثمن د ځنډولو لپاره کېږي؛ نو بناء په صرافۍ کې د فقهاوو په راجح قول سره بیعانه جواز نه لري.

**مأخذونه**

قرآن کریم .

۱-ابن عابدين، محمد امين علاء الدين الدمشقى الشامى، ( ب، ت)، حاشية رد المحتار على الدر المختار لابن عابدين، ج۷، بيروت: دار الكتب العلمية

۲- الكاسانى، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاسانى،( ١٤٠٦هـ.ق - ١٩٨٦م)بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع . بيروت: دار الكتب العلمية.

۳- أبو الحسن على بن الحسين بن محمد السُّغْدى، حنفى، ( ١٤٠٤هـ.ق – ١٩٨٤م) النتف فى الفتاوى، ج۲، لبنان – بيروت: مؤسسة الرسالة دار الفرقان.

۴- الزيلعى، جمال الدين،( ب. ت )، نصب الراية فى تخريج أحاديث الهداية ، ج۷، قاهرة: دار الحديث.

۵- عثمانى، محمد تقى، ( ١٤٣٦هـ.ق)، فقه البيوع على مذاهب الأربعة، ج۱، باكستان – كراتشى: مكتبة معارف القرآن.

٦- عثمانى، محمد تقى، ( ١٤٣٦هـ.ق)، فقه البيوع على مذاهب الأربعة، ج۲، باكستان – كراتشى: مكتبة معارف القرآن.

۷- ابن منظور، محمد بن مكرم الافريقى، (۱۴۱۴هـ.ق)، لسان العرب، ج۹، بيروت: دار صادر.

۸- الجوهرى، اسماعيل بن حماد، (١٤٠٧هـ.ق) ،الصحاح تاج اللغة، ج۱، دار العلم للملايين.

۹- الزَّبيدى، محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسينى، تاج العروس من جواهر القاموس، ج۳،دار الهداية.

۱۰- السِّجِسْتانى، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو أبو داود الأزدى. (١٤٣٠ هـ.ق)، سنن أبى داود، ج۵، دار الرسالة العالمية.

۱۱- الفيومى، احمد بن محمد بن على ابو العباس، المصباح المنير فى غريب الشرح الكبير، ج۲، بيروت:المكتبة العلمية.

۱۲- قلعجى، محمد رواس او حامد صادق قنيبى، (١٤٠٨ هـ.ق)، معجم لغة الفقهاء، ج ۱، بيروت: دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع.

۱۳- النيسابورى، مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيرى، ( ب ت )، صحيح مسلم، ج۳، بيروت: دار احياء التراث العربى.

۱۴- ابن حنبل، أحمد بن محمد بن حنبل الشيبانى أبو عبد الله، مسند احمد، ج۲۴، بيروت. مؤسسة الرسالة، (١٤٢١هـ.ق).